# د سلمٰی شاهین د ناول کۀ رڼا شوه نفسیاتي تنقیدي جاج

The psychological criticism of Ka Ranra Shwa, Salma Shaheen's Novel

Tufail Ahmad Zaryab Yousafzai[1]
zaryabyousafzaiicp@gmail.com
03466607224

Issn 2304-1463

## Abstract

**The Psychological criticism has trace back to the psychoanalytical thoughts which were presented by Fraed. After him, the neo-Freudians such as Adler and Jaang also contributed in the field on these theories. The Critics, apply particular psychological theory to psychological criticism to make the criticism on the author, according to the method and theories in this field, we have chosen the Pashto Novel, Ka Ranra Shwa by Salma Shaheen , farmer Director Pashto Academy, UOP. Published in 1998 AD in Lahore. Its story is based on the typical Pashtoon society where there every relation has a name, respect and position. Those relations and position affect the psychology of the society. The impact of the behavior and way of thoughts inspired the whole Pashtoon culture. This paper will discuss the Novel in the light of the standard made by Psychological criticism in order to explore the modern beauty of modern literary standards in the mentioned novel.**

پښتو افسانوي ادب ته کۀ اوکتلے شي، نو ابتدا ئې د ترجمو نه شوي ده او هم هغه روایتي تنقیدي جاج او څېړني پرې شوي او کېږي. راحت زاخېلي وړومبے افسانه نګار دے او کونډه جینۍ ئې لیکلي ده دغسې شلېدلي پڼه کوم چې یو ښۀ تکل دے تر ننه ئې نقادان افسانه ګڼي. حالانکې دغه د عبدالحلیم شرر د مغرور جوتا مضمون لفظي ترجمه ده. په دې حواله عظمت هما لیکي:

"عبدالحلیم شرر د ډېرو ناولونو او مضامینو لیکونکے ؤ. د هغه بې شمېره مضامین په مختلفو اخبارونو. رسالو او خصوصاً د هغه پخپل اخبار دلګداز کښې چاپ شوي دي. په دغه مضامینو کښې یو مضمون د مغرور جوتا په نوم لیکلے شوے دے. مغرور جوتا د عبدالحلیم شرر طبعزاد لیک دے. ... کۀ مونږ د شرر مغرور جوتا او د راحت زاخېلي شلېدلي پڼه په غور

[1] Lecturer in Pashto Islamia College University Peshawar

سره ولولو نو معلومه به شي چې د راحت شلېدلي پڼه د مغرور جوتا ټکي په ټکي ترجمه ده."[1]

بل خوا کۀ مونږ ګورو په پښتنو کښې ښځینه لیکوالې د شمار دي او بیا افسانوي ادب کښې خو بیخي د شمار دي. د زیتون بانو اروا ښاده نوم اخستلے کېږي خو تر اوسه چا د هغې په افسانه د تنقید جرأت نۀ دے کړے ځکه چې مونږ د روایت قائله یُو حالانکې د هغې افسانې د نیمې نه زیاتې د افسانې په تکنیک پوره هم نۀ خېژي او نۀ زمونږ د معاشرتي، سماجي او نفسیاتي ژوند بڼه لري. بهرکېف یوه نامه د سلمٰی شاهین هم د پښتو په ښځینه افسانوي ادبي حلقو کښې شته څوک چې یوه اعلي تعلیم یافته هم ده او د قلمي احساس ذمه وارۍ د تر سره کولو جوګه هم.

په دې مقاله کښې به د سلمٰی شاهین د ناول کۀ رڼا شوه نفسیاتي جاج اخستلے شي چې ایا دغه ناول زمونږ د پښتنې معاشرې نفسیاتي بڼه لري او کۀ نا؟ خو اول به په اختصار سره د نفسیاتي تنقید په اړه بحث وکړی شي او هم په هغه ټاکلي معیار به کۀ رڼا شوه وتللے شي.

د یوې فنپارې د تخلیق نه وړاندې تخلیق کار په زړۀ زړۀ کښې په خپله فنپاره تنقید کوي. د خپلې فنپارې په حقله د یو نقاد په حېث سوچ او فکر کوي او بیا ئې په سنجیدګۍ سره د تخلیق د نازکو ګوتو نه اوباسي. دغسې د تخلیق په وخت هم فنپاره کښې ضروري بدلونونه او ترمیمات کوي او د خپلې فنپارې د ځنې سترګې د پاره د خپل فکر نیلي زغلوي. د هغۀ په زړۀ کښې بس دغه یو سوچ او فکر وي چې قاري به زما په نقطۀ نظر ورسي کۀ نا؟ لوستونکے به زما د موضوع په شا زما اصل نکتې ته ورسي کۀ نا؟ ایا لوستونکے به زما ددې فنپارې نه استفاده وکړے شي کۀ نا؟ د قاري متعلق هر اړخیزه امور سنجوي او بیا د موضوع د انتخاب سره سم د ژبې انتخاب هم کوي چې په کومه لهجه او ژبه کښې د هغه لوستونکي ښۀ پوهېدے شي. نفسیاتي تنقید هغه تنقید وي چې په هغې کښې د ادیب د ذهني کېفیاتو مطالعه کولے شي او د هغه ادیب د ژوند د عمومي رویو او نفسي کېفیاتو د ادراک کوشش کولے شي. د وائټ هېډ تر مخه:

"The more appropriate way to pursue psychological literary criticism would be to understand an author's implicit, informal personality theory, match it to the explicit formal theory with which it is most congruent, and then use that personality theory systematically as a lens through which to view the author's work. Hence, a critic may state the theory in different forms. However, there is a gap in literature regarding the literary criticism dominated by the Neo-Freudian, Erich Fromm. At the same time there a huge scope in choosing from main perspective of Humanistic Psychoanalysis as a basic theory for literary criticism."[2]

ترجمه:( نفسياتي ادبي تنقيد د وړاندې تګ د پاره مناسبه طريقه دا وي چې د مصنف مضمر او غېر رسمي شخصيت نظريه باندې ځان پوهه کړي. هغه د يوې داسې واضحه رسمي نظريې پله راولي چې د هر چا سره مطابقت لري او بيا په يوه منظمه طريقه دغه نظريه په کار راولي چې کوم باندې ليکوال کار کړے وي.هم دغه وجه ده چې يو نقاد يوه نظريه په مختلف شکلونو کښې بيانولے شي. خو ولې بيا هم په ادبي حواله يوه خلا شته دے کوم چې نيو فرائډين، ايرک فرام دے. د دې سره سره د ادبي تنقيد د پاره بنيادي نظريې په توګه هيومنسټ سائيکو اينااليسس د مرکزي نقطهٔ نظر د انتخاب کولو ګنجائش وي.)

دغسې مونټي وائي:

"Psychoanalytic theories assume the existence of unconscious internal states that motivate an individual's overt actions".[3]

ترجمه:( په نفسياتي نظرياتو کښې د لاشعوري داخلي حالت وجود فرض کولے شي کوم چې د يو کس واضحه اعمال متحرک کوي)

دغسې د نفسياتي تنقيد اساس او بيا د دې ميدان نامتو کار کوونکي فرائډ نه علاوه کارل ګوستاؤ، الفرډ اډلر وو

"The Psychoanalysis movement is therefore championed by Sigmund Freud (1859-1939). A later student of Freudian psychology in the name of Carl Gustav Jung (1875-1961) re-directs his view to suit his own social milieu in the understanding of psychoanalysis. It is Jung who sees the basic human behaviors in myths and legends. A later development of psychoanalysis embraced Alfred Adler (1870-1937) who sees man as a social being. In the sense of Adler we are motivated by social needs, "we are self-conscious and capable of improving ourselves and the world around us"[4].

ترجمه:( دغسې د نفسياتي تجزيې تحريک له سګمنډ فرائډ (**۱۸۵۹-۱۹۳۹**) دوام ورکړې. کارل ګستاوجنګ (**۱۸۷۵- ۱۹۲۱**) په نوم فرائيډين سائيکالوجي له يو زده کوونکي د علم نفسياتي تجزيې د خپل سماجي ماحول مطابق د تفهيم لارې جوړوي. دا ګستاوجنګ ؤ چې په افسانو او افسانوي ادب کښې د انساني رويو څېړنه کوي. نفسياتي تجزيه نه پس الفريډ ايډلر (**۱۸۷۰-۱۹۳۷**) دا قبوله کړه چې انسان ته د يو سماجي وجود په توګه ګوري. د ايډلر تر مخه مونږ سماجي ضرورتونو نه متاثره کېږي. مونږ پخپله باشعوره يو او د خپلې چاپېره دنيا د بهترې کولو قابل يُو)

دلته د سلمٰی شاهين کۀ رڼا شوه ناول نفسياتي تنقيدي جاج اخستلی شي، کوم چې په کال ۱۹۹۸ء کښې ملت پرنټرز لاهور خپور کړے دے. دا ناول په دوه بابونو مشتمل دے او يو سل او پينځۀ دېرش مخونه لري. يوه عام روايتي قيصه ده کومه چې د يوې غريبې عائشې او د کلي د خان د زوي عباس خان نه چاپېره تاوېږي. د کلي ماحول او روايتي ژوند او بيا د محبتونو سلسلې او د محبتونو د تکميل د لارو چارو د لټون سره سم په زړۀ د کانړي ايښودو مشرقي انداز او معاشرتي او سماجي کړه وړه دهوکه فرېب، رشتې او د رشتو د تقدس پامالي او بل خوا په کښې د سلمٰی شاهين د نيمګړي احساساتو د تنده غري لمحو او د ژوند د يو مهم اړخ نفسياتي رنګونه پرې غالب لېدلې شي. لکه څنګه چې د صاحب زاده ادريس پېغله ناول کښې په رياض کښې د خپل نيمګړي ژوند او محروميو تصوير لېدلے شو.

نفسیاتي تنقید د فرائډ نظریه لاشعور او تحلیل نفسي د نظریو په اساس مېنځ ته راغلې دے. سېګمنټ فرائډ دا نظریه وړاندې کړه چې یو مخصوص ذهني عمل د هسټریا سبب ګرځي یعنې د یو کس داسې ناسوده خواهشات کوم چې په لاشعور کښې پراتۀ وي د جسماني علامتونو په صورت کښې رابرڅېره کېږي. هغه علم نفسیات له دومره ترقي ورکړه چې د یو سائنس شکل ئې اختیار کړو ګڼې د دې نه وړاندې علم نفسیات د فلسفې د یوې څانګې په توګه منلے شو، څۀ ته چې به ئې مشاهده نفس یا مطالعه باطن هم وئیلے شو. د فرائډ وېنا ده چې هغه د شاعرانو او فلسفیانو نه کومې خبرې زده کړې د هغې تجرباتي ثبوت هغه وړاندې کړو. د ادیب په اړه د فرائډ دا نظریه ده چې هغه د خپلو خواهشاتو او ارزوګانو د تکمیل لارې چارې په دې دنیا نۀ ویني نو ځکه هغه ئې د خپلو خوبونو، تخیل او هېجاني کېفیاتو په تدبیر کښې د تکمیل هڅه کوي دغسې هغه د جذباتو او جبلت د ارفاع مقام ته د رسولو جوګه کېږي. نو ځکه د ادب دا اثر وي چې کله قاري دغه خواهشات په مختلفو علامتونو کښې ویني ګوري نو د هغوي د ذوق د تسکین تنده هم ماتېږي. سلمٰی شاهین هم دغه اظهار کۀ رښا شوه کښې کړے دے. یو ځائې کښې لیکي:

"سره د دې چې عائشه دومره د پردې پابنده نۀ وه او بل تعلیم دا قدرې اعتماد خو په بنده کښې پېدا کړي چې نور چاته د څۀ مقصد د پاره ورمخامخ کېدے شي....ستر پرده او حیا ښۀ شے دے خو دومره هم نۀ چې په ځان دې قدغن شي او روح ئې قبض شي...انساني نفس قېدول ورته ظلم ښکارېدو...."[5]

سلمٰی شاهین د خپل داخل د نیمګړتیاؤ او محرومیو اظهار له چې کوم لفظونه او کوم کردارونه راجوړ کړي دي نو د هغې په شا د سلمٰی شاهین خپل نفسیاتي هېجاني کېفیت جوت لېدلے شي. هغه د خپلو خوبونو د تعبیر په لټون د یو نامعلوم سفر لارویه ده او هم دغې سفر په کښې دننه یوه داسې خلا پېدا کړې ده چې په دې ناول کښې ئې مونږ وینې وینې لرزېدلي نقشونه وینو ګورو. ښۀ ژوند او د ژوند ښۀ ملګرے د هر چا ارمان وي، هر څوک د خپل سباوون د رشتو او د هغې د حاصلولو هڅې هم کوي او د ژوند مرام دغه د خپل خوب تعبیر وګرځوي. سلمٰی

شاهین هم دغسې د خپل ځان د پاره د یو خوب د تعبیر په لټون خپل ژوند نیمه خوا تېروي. د هغې په ژوند د دغې خوب اثرات نېغ په نېغه شوي دي او اوس هم د دې ناول په تناظر کښې مونږ ته دا لګي چې د خپلو خوبونو په رنځ اخته وي. د فرائډ تصنیف، د خوب تعبیر، Interpretation of Dreams په کال ۱۸۹۹ء کښې شائع شوے دے کوم چې د تحلیل نفسي او نفسیاتو په رشته او تړون وړومبے کتاب دے. په دې کتاب کښې فرائډ د خوبونو متعلق خپل نظریات بیان کړي دي.[6]

د فرائډ نه وړاندې په څلورمه قبل مسیح پېړۍ کښې بقراط دا انکشاف کړے ؤ چې د څۀ مرضونو د خوبونو سره ډېر ژور تعلق وي. دغسې ارسطو هم په دلائلو ثابته کړې ده چې د خوبونو تعلق د انساني چارو سره دے. ډاکټر له د مریض د خوب نه اګاهي ضروري ده ځکه چې خوبونه د وخت نه وړاندې د مریض بعضې علامتونه ظاهروي. د انساني جذباتو، محسوساتو ، تجرباتو او خیالاتو داسې فني اظهار چې په نورو کښې هم ترې بعضې تاثرات راپېدا کېږي. د دې اظهار خو په تحریر یا تکلمي ژبه کېږي نو ځکه د دې په فنکارانه اظهار کښې د ژبې بعضې خصوصیات هم شاملولے شي.[7]

په انساني ژوند کښې د جنسي مسئلو او ستونزو نه علاوه نورې هم بلها کشالې دي کومې چې د فن د اظهار محرک کېږي او تصور د ارتفاع او ارسطو د تصور تزکیه پله دغه محرکات بوځي کوم چې په ډېره بهتره طریقه نفسیاتي ترجماني کوي. کۀ رښا شوه هم دغه بڼه کښې دغه افکار په خپله لمن کښې ځائې کړي دي.

"ادې بي بي تاسو ولې پرېشانه یې. هغې په تادۍ کښې اووې چې زما اینږور جمیله څۀ د بال بچ ناروغه ده. ...او لیږې ډاکټره هم نشته. ...څۀ ساعت سوچ نه پس هغې دا خیال وکړو چې شیرین د هغې خور چې د میډیکل د څلورم کال طالب علمه ده نن سبا په چټۍ ده. ... ځم چې هغه راولم...."[8]

په ادبي نقطۀ نظر د فرائډ نظریه تحلیل نفسي په اساس د تنقید د ټولو نه لویه خامي دا ده چې دا په ډرامه یا ناول کښې کردار په "ټائپ " کښې بدلوي. د کومې په وجه چې د فرد جذباتي

کشمکش او د هغه د شخصیت د نمو تصور بې معنې کېږي. حالانکې دغه تصور د ښځې ادبي تخلیق بنیاد دے. سلمیٰ شاهین هم د دغې جذباتي کشمکش په تناظر کښې د خپلې معاشرې د شخصي تشخص بې معنې کړے دے او د نفسیاتي تجزیې ناکامه کوشش ئې کړے دے.

"عائشې هغه چپ کړه وې ئې مونږ لا اوس هم په ډېرو تیارو کښې وسو. د جهالت په تیرو. ...مونږ ښځې چې به لا د ظلمونو په دې ژرنده تر کومه دلېږو ...اف ماته خو د دې د خلاصېدو څۀ رؤ ګودر نۀ ښکاري...پښتانۀ سړي د ښځو سره څۀ ناروا سلوک کوي..نفسیات خو دا وائي چې د دوي په خپلو ځانونو اعتبار نشته ...ټول عمر د تور پېغور د وېرې هم دغسې کوي. د خپلو تور سرو د جذباتو ضروریاتو څۀ احساس نۀ کوي. تۀ چې څۀ وائې في الحال ئې ځوک نۀ مني دا به وخت غواړي... ."[9]

د علم نفسیات بلها اصطلاحات استعمالېږي لکه شعور، لاشعور، تحت الشعور، احساس کمتري، احساس برتري او داسې نورې چې د ادب، شاعرۍ او فن مطالعه پرې د نفسیاتي نقطۀ نظر په بنیاد کولے شي. کارل یونګ او الفریډ ایډلر د فرائډ د جنسي نظریې سره اختلاف کړے دے یونګ چې د لاشعور کومه نظریه وړاندې کړې ده د هغې تر مخه لاشعور د شکست خورده جنسي ارزوګانو او محرومیو سره سم د اجتماعي تهذیبي او جمالیاتي قدرونو او تصوراتو خزانه ده ځکه چې انساني لاشعور د شخصي نه علاوه د اجتماعي او نسلي نوعیت وي. د یونګ په خیال لاشعور د عظیم تخلیقي قوتونو سر چینه ده. کله چې یو فنکار د خپل داخلي شخصیت معرفت حاصل کړي نو د هغه تخلیق د ازلي او ابدي حسن او معنویت بام ته وخېژي. انسان خپل تخلیقات د خپل داخلي پټو نفسیاتي کمزوریو او خامیو سره سم د داخلي کشمکش د اظهار د پاره کاروي او تر ډېره حده د هغه زړۀ ته اطمینان ر لکه څنګه چې عائشه د عباس خان سره په موټر کښې د تلو د پاره په تیاره شپه کښې روانه شي نو د هغې د کېفیت منظر نګاري او بیا د عباس خان د خپلو جذباتو اظهار سره نوے کشمکش شروع شي، ځکه چې عائشې خو هغه یو حیادار انسان ګڼلو خو بیا هم چې جرأت وکړي او تپوس ترې وکړي.

"ستاسو دا موټر مخکښې بل چا سره ؤ... هغه اووې نۀ بیا چپ شو...اوس خو عائشې وئیل چې هغه دې په هوا کښې کور ته اورسي...باران نور هم تېز شو ولې د هغه د موټر رفتار کم ؤ...هغه ګویا شو ...وئیل یې تۀ چې څۀ تپوس کول غواړې ...هو هغه زۀ یم....عائشې سترګې ښکته کړې...چپ شوه...بیا ئې اووې ...عائشې خلق خوبونه ویني کنۀ ...عائشې د ویرې نه هغه کتل... او د هغې د ویرې اندازه ئې لګوله...وې ئې ما هم یو خوب لیدلے دے...تۀ په خوبونو یقین کوې...عائشې بیا شیشې ته اوکتل...په ټوله شیشه هغې دوه سترګې چې په ډېر تجسس ئې دې کتل ولیدلې ...په هغې کښې د دغه عقابي سترګو د لیدلو تاب نۀ ؤ. په هېبت او ویره ئې ورته اووئیل چې زۀ خوبونه نۀ وینم...زۀ نۀ پوهېږم...دا خو ناوخته دے...هغه ورته بیا اووې ... عائشې زما په شرافت او زما په صبر یقین نۀ کوې...کله نه چې مې تۀ لیدلې ئې نو تۀ هم زما په خوښه او صلاح زمونږ کور ته راغلې یې نو ما تا ته د خپل کور د قبرت او حیا نه کم نۀ دې کتلې... .[10]

د نفسیاتي اصولو په ادب او تنقید کښې د مرزا هادي رسوا نوم په سر کښې دے. د هغه د کار او زیار نه انکار نۀ شي کېدے. د علم نفسیات د جدید معلوماتو په رڼا کښې ئې ادب ته کتلي دي.

"هغه په احساس، شعور، تخیل، تشبیهه او استعارې د نفسیاتو په رڼا کښې بحث کړے دے. دا د هغۀ د ژور بصیرت مظهر دے چې په اردو کښې د فرائډ د تعلیماتو نه وړاندې هغه نۀ یواځې د شعور د غېر طبعي اجزا د ارزښت احساس لرلو بلکې هغه د ذهني ملزوم نه هم واقف ؤ. رسوا حاسه د شعور وسیله ګڼله او د حاسې نه پېدا کېدونکي کېفیات ئې په درې مدارجو کښې تقسیم کړي دي، شعور، وجدان او اراده."[11]

د رسوا د حاسې د مدارجو په تناظر کښې چې د سلمٰی شاهین ناول ته ځیر کېږو نو دا خبره ترې جوتېږي چې دغه هڅه د سلمٰی شاهین د شعور نتیجه ده چې په کښې ئې د خپلې محرمه زندګۍ محرومه قیصه کړي ده او مونږ دا وئیلے شُو چې کۀ رڼا شوه په شعوري توګه د هغه وجداني کېف سرور دے چې د کومې هڅه چې د خپل تفسیاتي کشمکش د کرب او اضطراب نه د وتلو ارادي اقدام دے.

"د مينې په حقله د هغې عجيبه فلسفه وه... هغې به وئيل چې مينه روحاني شے دے.. دا په زمکه نۀ بلکې په اسمانونو کېږي...مينه چې مينه وي بنده پرې قربانۍ او بائلات ته هم تيار شي... د هغې دا پخه عقيده وه چې مينه د دوه کسانو په مېنځ کښې د جسماني ضروتونو نوم نۀ دے چې دا به ګنې د دوو وجودونو پورې محدوده وي... دا خو د وجود ماحول او فضا ... غرض دا چې د هر څۀ نه بې پروا د يو ابدي سرور نوم دے...د انسان مطمئن کېدل ...تسکين حاصلول مينه کښې د زړۀ غوښتنې جدا وي...سوزېدل...کړېدل...نولېدل...لحظه لحظه انتظار بنده د هغه سختو لارو نه خبر کړي ... هغې به سوچ کولو چې زۀ او عباس د درياب دوه غاړې يُو..."[12]

سلمٰی شاهين د عائشې په کردار کښې د ځان او خپلې زندګۍ د حقائقو ځايولو هڅه کړې ده ځوک چې په هر قدم د خپلې پښتو او پښتني رواياتو او اقدارو سره د مذهب په ديوالونو کښې مقيده لګي. ځکه چې د خپلې پښتو روايات او اقدار ئې په زړۀ پورې نيولي دي او لکه د فرائډ د اخلاقي ډډ معيار په سيند لاهو شوي ده. خو ولې بيا هم هغې د خپل مذهب په څادر د خپل نيمګړي نيمه خوا ژوند د محروميو سر او مخ پټ کړے دے. د رجائيت يوه پلوشه ئې د زندګۍ د محروميو په بند موټې کښې ساتلې ده.

فرائډ د خپلې يهودي زندګۍ د تحفظ په خاطر يو ځائې بل ځائې ګرځېدو راګرځېدو خو د خپل تهذيب نه ئې مخ نۀ شو اړولے او اخر د اخلاقي ډډ معيار ښکار شو.هغه د جنسي حقيقت ناقابل ترديد اړخ په داسې انداز د اخلاقي قدرونو په بې حسۍ او بې وسۍ کښې په ګوته کړل چې هر چا په زړۀ زړۀ کښې د دغې حقيقت منته وکړه خو بل اړخ ته کرکيګارډ د عيسائيت ډوبېدونکي کشتۍ له د لاس ورکولو هڅه وکړه او رجائي قدمونه ئې پورته کړل. هغه انسانانو ته د عيسائيت په سيوري د پناه اخستلو تبليغ شروع کړو چې د دې په وسيله تاسو د ګناه د ازلي او سخت احساس نه ځان ژغورلے شئ. کرکيګارډ هم انسان په بنيادي توګه ګنهګار ګڼي. فرائډ د اهل مغرب مذهبي او اخلاقي اقدارو نه لرې والے د جبلتونو غلامي ګڼي.

فرائډ وائي چې جبلي عالم نه اخلاقي او مذهبي اقدار څۀ بل شے جوړوي. دا لکه هغه په اهل مغرب د نوي عذاب دروازه پرانسته. د فرائډ جنسي تحقيق په تخرباتي خبرو اډانه ؤ په کوم

کښې چې انسان په اول ځل خپل مخ روڼ ولیدو. دغې انسان چې کله په خپل ضمیر او تحتُ الشعور کښې وکتل نو هیڅ صداقت ئې ونۀ لیدو د کومې سر څېه چې مترقي تهذیب کړي وه. صداقت په اصل کښې هغه ؤ چې فرائډ ورته اشاره کړې وه."[13]

نفسیات او تحلیل نفسي یو نوے علم دے کوم چې د انساني ذهن او شعور تجزیه کوي. یوه اکائي نۀ ګڼي بلکې په درې حصو کښې ئې تقسیم کړے دے. د هرې حصې خپل کار دے.

1 .شعور Consciousness

2 . لاشعور Unconsciousness

3 . تحتُ الشعور Sub consciousness

مارکس او فرائډ دواړو نۀ یواځې د ادب دنیا متاثره کړه بلکې تر ډېره حده ئې د دې ماهیئت هم متاثره کړے دے. د مارکس تعلق سر ته سره د خارج سره ؤ او د فرائډ توجه د یو کس د اندروني شخصیت سره وه. د مارکس په ذهن کښې د شریاتي تاریخ په بنیادونو ولاړ د یو فلاحي ریاست یوه خاکه وه. د فرائډ مطمح نظر او د دې جبلي نظام هم ؤ. ټول عمر دې یوټوپیا له د تجسیمي صورت ورکولو په خاطر سرګرادانه ؤ، په څۀ کښې چې جنس مشترک ؤ. مارکس د جنس په ځائې خپله توجه اقتصادي پېداوار او د هغې عواملو کښې د ټرون او تاریخي قوتونو ته بخښلې وه. فرائډ د خپلو تجرباتو بنیاد په انساني سائیکي ایښودے ؤ. د هغه د تحقیقاتو نه ادیبانو ته د تحتُ الشعور د سرچینو زېګونونه په لاس وراغلل. د فرائډ مطمح نظر ذهن تر مخه د ادب تخلیق هم یو ذهني عمل دے او د ذهن یو خاص اهمیت دے څۀ ته چې لاشعور وئیلے شي. نفسیاتو کښې علامت، استعارې او پیکر ته نوي تخلیقي ژبه ورکړه او د رواجي ژبې نه ئې ورته د انحراف جرأت ورکړو. فرائډ د خپل فکر بنیاد د انسان په داخلي کردار کېښودو. ځکه چې تخلیقي عمل کښې د شخصیت او ذات په مېنځ کښې چې کومه باریکه رابطه ده یونګ په هغې رڼا اچولې ده او د ډېرو تخلیقي مسائلو د حل کولو هڅې ئې کړې دي. د تخلیق عمل کښې د ذهن د غوټو د نیم ببداری، د خوبونو او د لاشعوري تجرباتو د ماضي او د مجهول عدم تکمیل د خواهشاتو د پوره کولو د پاره خپل کردار لوبوي. د فرائډ تر مخه هسې د وچې اخلاقیات او

مذهبي احترامات او سماجي ضابطې د شخصیت د تعمیر او تشکیل په لړ کښې خپل اثرات مسلم کوي. د فرائډ په نزد چرته چې یو تخلیقي جنسي دباؤ د پېدا کېدونکي اعصابي احتلال او ذهني انتشار مظهر دے هلته هغه دا حکم صادروي چې فني او ادبي اظهار بذات خود د جنسي تسکین یو بدل شوے شکل دے."[14]

سلمیٰ شاهین ته چې د دې ناول په تناظر کښې ګورو نو هغې د عائشې او شهباز د تعلق او بیا د شهباز سره د رشتې د خوب تعبیر په اور پسې کېدل هم هغه د فرائډ د اعصابي احتلال او ذهني انتشار انځورګري ده. بل خوا هغه چې عائشې ته د رشتې نه د انکار کوم جواز وړاندې کوي نو هغې کښې کۀ یو اړخ ته د معاشرې رښتینې عکاسي شوې ده نو بل خوا د نفسیاتي رویو او روزګار اغېزه ښائي.

"شهبازه کوئیدن دې وکړه څۀ...هغه اوئیل چې هو ما خو ډېره موده اوشوه چې کوئیدن کړې ده ... ما وئیل چې زۀ به درته څنګه دا حال اووایم....اصل کښې زما مور د تعلیم یافته او بیا خاص طور د نوکر پېشه جینکو سخته خلاف ده..."[15]

د شهباز د جواب سره چې په عائشه څۀ تېرېدل نو هم هغه کېفیت سلمیٰ شاهین د لفظ په مجسم پېکر کښې د راټولو شعوري کوشش کړے دے. دغه نفسیاتي کېفیت ته فرائډ مرکزي اهمیت ورکړو او خپل شعور او لاشعور ئې په کښې هم شامل کړو. په خپل ابتدائي او غېر ترقي یافته حالت کښې فرائډ د شعور د پاره Id اصطلاح تجویز کړې وه. Id کښې ټو قسمه جبلي خواهشات، ارزوګانې او د هغې اسودګي په خصوصي توګه او د جنسي تکمیل د پاره په هڅو کښې لګیا وي." [16]

انسان د دې فطري او جبلي هېجاناتو نه مخ نۀ شي اړولے بلکې د دې هېجاناتو د تشفي د پاره هڅې کوي. د دې نه کشمکش هم پېدا کېږي او سماج هم د یو مضبوط دېوال په شان مخامخ ولاړ وي.خارجي دنیا د لذت د حصول د خوب د تکمیل د لارې خنډ وي. په ابتدا کښې دغه تصادم ډېر شدید وي، خو اخر د سماج د بالاترۍ په معنو پوهه ش د داخلي مفاهمت لارې پیدا

شي. د حقيقت د دې اشنائۍ سره سم EGO پېدا کېدل شروع شي. په Ego کښې د حقيقت په اصولو باندې پابندي راځي او Id هم خپله طابع ساتي. د Id په هېجاني رجحاناتو کښې جمود پېدا کېږي. بعضې وخت چې په Egoد Id د بدتميزۍ طوفان راشي نو داسې نتيجې پېدا کېږي.عائشه هم د زاهد سره د ډوډۍ نه پس د هغه د نظر او رويې په تناظر کښې دغې حالت ته رسي او هغه ته څپېړه ورکوي. هغې د مينې په نوم بلها دهوکې خوړلې وي. د اعتبار په نوم ئې خپل خلوص قربان کړے وي او چې چا به ورته د عدالت په لار د وادهٔ خبره کوله نو هم به ورسره هغې تعلق پرېښودو.

"زاهد سيګرټ لګولے ؤ او عائشې ته په عجيبه انداز کتل...ورته ئې اووې چې تهٔ وادهٔ ولې نهٔ کوې تهٔ يواځې تنګېږې نهٔ...د هغې د زاهد سره داسې قسمه خبرې نهٔ ښايي خو په دوېمه لمحه خدا ے خبر چې د هغه د کتو په انداز کښې څهٔ وو چې هغې ورله په مخ څپېړه ورکړه....هغې ژړل او زاهد ورته اوئيل کهٔ زهٔ ستا نه دا تپوس وکړم چې تهٔ ګنې دومره حياداره ئې چې په دې خبرو بد منې نو بيا پردي نامحرم ته د ډوډۍ خوړلو او کور ته د راوستو دعوت ولې ورکوې...هره ورځ ډوډۍ ګانې کوې ...خپل پردي نهٔ پېژنې او رابلې يې...هر چاله هم د مينې په نوم دهوکه ورکوې...دا ياد ساته چې سړے د ځان د پاره تا غوندې ښځې نهٔ خوښوي...زهٔ خو تا ته حېران يم چې په سلګونو دوستۍ دې وکړې خو سړے ذات دې ونهٔ پېژندو..."[17]

د زاهد په خبرو د عائشې د شعور او لاشعور مجهول ارمانونه او خواهشات د خپل تکميل د ارزوګانو د مجادلې کېفيت په زد کښې راځي او د نفسياتي رنځ جولۍ ته پرېوځي. فرائډ ذهني اکائي نهٔ تسليموي بلکې هغه د سمندر په سطح ګرځېدونکي د واورې ټوټه چې برنۍ حصه ئې شعور او کوم چې لږ لږ ډوب وي او لږ شان واضحه ښکاري هغه تحت الشعور او کومه چې غټه حصه وي چې دننه ډوبه وي هغه لاشعور دے. زمونږ لاشعوري مجهول خواهشات بار بار شعور ته د داخلېدو د پاره بې تابه وي خو تحتُ الشعور په هغې د انصاف او احتساب نه کار اخلي او هغه بيا د لاشعور په ژور سمندر کښې ډوب شي. خو دغه خواهشات په خوب کښې شعور ته د رسېدلو هڅه کوي. لاشعور د عدم تکميل ارزوګانو او ناخوښه چقېدلي او زورلي

شوي خواهشاتو مسکن دے. د شعور او لاشعور په مېنځ کښې د مجادلې کېفیت هر وخت جوړ وي. کله کله د احتساب عمل دومره سخت وي چې د ارتفاع په لار هم د دغې خواهشاتو اظهار ونۀ شي چې د هغې په نتیجه کښې څو قسمه نفسیاتي بیمارۍ هم لګي.

"هغې د زاهد خبرې اورېدې ... د خپل ماضي یو یو ساعت د هغې د ستوګو د وړاندې شو. هغې سوچ کولو ...عباس، قاسم، زاهد... د بېلو بېلو کسانو یو روپ دے...او کۀ زما ډېر مخونه دي...د هغې د خپل ځان نه نفرت شو..."[18]

د دې نه پس عائشه ځان راونغاړي او پخپله زندګۍ سوچ شروع کړي او چې ځان مصروفه کړي نو یوه ورځ بیا د هغې په ژوند کښې د رڼا بخرے د حسن په صورت کښې راشي. د حسن د عقیدت ځائې میني نیولې وي او هغه نه به دا نۀ برداشت کېدله چې ګني څوک دې د عائشه سره خبرې قدرې وکړي. د هغه محبت د هرڅۀ نه بې پروا ؤ. عائشې به هغه پوهه کولو ځکه چې هغې د خپلو مجهولو خواهشاتو اظهار نۀ کول غوښتل. اوس هغې ځان رامنې کړے ؤ، خو چې کله هغې د حسن د محبت صداقت ته وکتل نو وادۀ ورسره وکړي. د هغې ژوند کښې په درېم کال یو خوشګواره لمحه په هغه وخت راشي چې خدائې ورله لُور ورکړي او نوم ورله رڼا کېږدي. د عائشې د مور د جوړېدو ارمان هم پوره شو او بیا د روزګار په تکل حسن د بهر تلو تابیا وکړي. عائشه د بهر تګ نه ویرېدله او هم هغه وشوه چې د حسن هډو ورک شي. رڼا پېغله شي میډیکل کالج ته ورسي او بیا یوه ورځ خبر شي چې پلار ئې راغلے دے او هغه ورسره د مېلاوېدو نه انکار وکړي. دغه ځائې کښې د مور او لُور ژوند د یو بل نفسیاتي کرب په چپو ورګډ شي. د رڼا په ذهن کښې راپورته شوي سوالونه ځواب ګوري چې اخر ولې زما پلار مونږ سره داسې کوي. بل خوا چې د رڼا رشته د ترور د لېورزي سره وشي نو د عائشه د سر نه یو لوئی بوج کوز شي. لږه اسودګي محسوس کړي او چې بیا د خپلې لُور کره د علاج په غرض لاړه شي او هلته د یو بل اضطرابي کېفیت سره مخ شي چې لور ئې خوشحاله نۀ وي.

"اصف تېز لګیا ؤ او رنړا ورته وې چې پلیز اصف د ډاکټر د معائنې خبره ده...بیا به مې مور هسپتال ته لاړه شي...ډېرې خبرې مهٔ کوه...او اصف وئیل چې دا څۀ په فقیرانو اوړېدلے یم..."[19]

د فرائډ د نظریې تر مخه:

"صرف د مجهولو خواهشاتو اظهار په بالواسطه طریقه هم کېدے شي. هغه علامتونه هم یوه داسې وسیله ګڼي چې په هغې زوربدلي خواهشات په پړده کېنې د تحتُ الشعور د لارو نه تېر شي او انسان اسودګي محسوس کړي. دې عمل ته ارتفاع وئیلے شي. فرائډ لېبډو د جنسي قوت او د فنکار د پاره بنۀ محرک او سر چشمه ګڼي د هغه خیال دے چې د اقتصاد، مذهب، ادب او تمدن په شا د لېبډو لاس دے."[20]

عباس بیا د عائشې ژوند ته راشي او چې حسن اووینی نو د عباس لاس ونیسي. وائي زۀ به مړه شم. په دې کېنې حسن او عائشې سترګې ولګي او د هغه حالت ګډ وډ شي او د لُور د لیدو تلوسه ئې پېدا شي او بیا چې عائشه د مرګ او ژوند په برید پرته وي نو د رنړا په سر د عباس لاس کېږدي. رنړا هم د ژوند په لور قدم واخلي او د حقوقو د تنظیم غړې شي. په دغه تناظر کېنې هم هغه د یو بل نفسیاتي کېفیت نه تېرېږي او هغه د انتقامي جذباتو د شدت او بیا خپل ژوند د خود مختارۍ دعوېداره کېږي یعنې رنړا د خپلو روایاتو د بغاوت علامت شي. لکه څنګه چې د هنري تصور دے:

> "Perhaps the most important contribution Karen Horney made to psychodynamic thought was her disagreements with Freud's view of women. She countered Freud's concept of penis envy with what she called womb envy, or man's envy of woman's ability to bear children. She argued that men compensate for this inability by striving for achievement and success in other realms. She also disagreed with Freud's belief that males and females were born with inherent differences in their personality. Rather than citing biological differences, she argued for a societal and cultural explanation. In her view, men and women were equal outside of the cultural restrictions often placed on being female. To Horney, people are not motivated by sexual or aggressive forces but by the needs for security and love[21]."

ترجمه: لکه چې کیرن هرني په سائیکو ډائنامک تصور باندې کار کړے دے.هغه د فرائیډ د ښځو په حواله د نظریې سره اختلاف وکړو.هغه د فرایډ د عضو تناسل د حسد او کینې د مقابلې د تصور سره هم اختلاف وکړو کوم ته چې ئې د رحم حسد وئیلو،یا د ښځې د اولاد د پېدا کولو صلاحیت سره حسد ساتل،هغه ددې دا دلیل ورکړو چې نارینه ددې تلافي کوي.ددې نا اهلۍ دپاره هغه په نورو شعبو کښې کامیابۍ تر لاسه کوي د کومې دپاره چې هغه کوششونه کوي.هغه د فرائیډ ددې عقیدې سره هم اختلاف لري چې نارینه او زنانه د خپل شخصیت د اختلاف سره پېدا کېږي.هغه د حیاتیاتي اختلافاتو د حوالې د ورکولو په ځائے سماجي او ثقافتي دلیل ورکړو.نارینه او زنانه د ثقافتي پابندیو نه بهر وو کومې چې اکثر په ښځو لګولې شي.

د پورته شوي بحث په رڼا کښې مونږ دا وئیلے شُو چې د سلمٰی شاهین دغه ناول کۀ یو خوا د پښتنې معاشرې د سماجي نفسیاتو په اړه غوره تخلیق دے نو بل خوا د پښتون د نفسیاتو سره سم د پښتنې د نفسیاتو د ترجمانۍ ښۀ نمونه ده. انسان او بیا په تېره تېره پښتون د خپلو محبتونو د تکمیل په اړه دوه قسمه رویې ساتي. یوه هغه چې د محبت په لار کښې د روایت قائله وي او بله هغه چې د محبت د تکمیل په خاطر د هر څۀ نه بغاوت کول محبت معراج ته رسوي. د انسان فطرت کښې لالچ هم دے او انانیت هم . بل دا چې د انسان حافظه کله کله ډېره کمزوري شي. دغه هم یوه نفسیاتي بیماري ده د کومو تجزیه چې کۀ رڼا شوه کښې په مجهول انداز کښې شوي ده. تخلیق کارې نوي في صده د خپل ژوند د نفسیاتي اړخ د سنجولو هڅه کړې ده او بیا په کښې د خپل حسرت د بیا پېدا کولو شعوري هڅه هم کړې ده لکه څنګه چې د هندوانو په مذهب کښې د مختلفو جنمونو تصور موجود دے دغسې د بیا پېدا کېدو او نوي سره د ژوند په لار د ژوند د ملګري د نیمګړتیاوي د تکمیل یوه شنډه هڅه ده چې د رڼا په شکل کښې ئې مونږ لېدلے هم شُو او محسوسولے هم.

## حواله جات (References)

[1] پاخون مردان، facebook.com، ۲۵-۱۰-۲۰۲۱

[2]https://www.researchgate.net/publication/321874416_An_approach_to_Psychological_Literary_Criticism_by_means_of_Frommian_Humanistic_Psychoanalysis [accessed Sep 21 2022].

[3] Monte, F. Beneath (1877) The Mask. New York: Praegar Publishers,p 323

[4] McConnel, James.V. (1980) Understanding Human Behaviour. New York: Holt, et.al,p 250

[5]شاهسن ، سلمیٰ ، کۀرښا شوه،لاهور،ملت پرنټرز،۱۹۹۸ء،ص۲۱

[6] Freud, S. Interpretation of Dream.(1913) 3rd edition, Trans. Brill A A. Macmillan. New York

[7] https://www.rekhta.org/ebooks/urdu-mein-nafsiyati-tanqeed-ebooks ،ص ۱۲

[8]کۀ رښا شوه،ص۲۳

[9]کۀ رښا شوه ،ص۲۲

[10]کۀ رښا شوه ،ص۳۴،۳۳

[11] https://www.rekhta.org/ebooks/nafsiyati-tanqeed-saleem-akhtar-ebooks ،ص ۱۸و۱۹

[12] کۀ رښا شوه،ص ۷۹

[13]اردو مین نفسیاتي تنقید ، مومن غلام نبي،۲۰۰۵ء،اصول پبلیکېشنز،پونړے، ص۱۳ ،

[14]اردو تنقید میں نفسیاتی عناصر،پرفیسر سید محمودالحسن،اترپردېش اردو اکادمي،لکهنو ، ۱۹۹۰ء،ص ۳۳

[15]کشمیر ودان تلے یم،ص۹۵ ،

[16] https://urdunotes.com/lesson/nafsiyati-tanqeed-in-urdu/ نیټه ۱۸-۱۱-۲-۲۱

[17]کۀ رښا شوه،ص ۹۸، ۹۷

[18]هم دغه ،ص ۹۹

[19]هم دغه،ص۱۲۷

[20] https://www.studocu.com/row/document/government-college-university-faisalabad/introduction-to-psychology/psychological-criticism/9087598

[21] هم دغه اثر